**بسم الله الرحمن الرحیم**

**په یوه معامله کې دوه تړونونه**

**(ژباړه)**




**پوښتنه**

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

زه یو تونېسی مسلمان ځوان یم. غواړم له حلالې لارې یو موټر وپېرم. یو کس راته له هغو شرکتونو ووېل چې موټر په اوږدمهاله کرایه ورکوي او د کرایې د تړون له پای ته رسېدو وروسته، دا هم شونې ده چې موټر واخلم؛ یعنې دوه بېل تړونونه. ایا دغه ډول تړون کول جایز دي؟

**ځواب**

**وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!**

له شک پرته په اسلام کې د تړون کولو په اړه دا خبره روښانه ده چې دوه تړونونه نشي سره ګډېدلی؛ نو ځکه یو تړون بل تړون نه بندوي، بلکې تړون د هغه د کولو په شرایطو او سموالي په شرایطو پورې تړلی دی. په اسلام کې تړون کول ستونزمن کار نه دی او د پانګوالۍ او کمونېزم بشري وضعي قوانینو په شان خند او ستونزه نه پکې راځي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم په یوه معامله کې دوه تړونونه منع کړي؛ مثلا که داسې ووایې، چې دا کور دربانديړ پلورم خو په دې شرط چې هغه بل کور مې په دې بيه واخلې يا په دې شرط چې خپل کور راباندې وپېرې يا اجازه راکړې چې له لور سره دې واده وکړم يا نور… . نو دا خبره سمه نه ده؛ ځکه دا خبره چې کور دربانديړ پلورم يو تړون شو او دا خبره کول چې د کور په مقابل کې دې خپل کور راباندې وپلورې، بل تړون دی، چې په یوه معامله کې راغله. نو دا جايز نه دی؛ ځکه په یوه حديث کې چې احمد له عبدالرحمن ابن مسعود او هغه يې له پلاره روايت کړی، پيغمبر صلي الله عليه وسلم داسې فرمايي:

**«نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ صَفْقَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ»**

*ژباړه: رسول الله صل الله وعليه وسلم په یوه معامله کې دوه تړونه(هوکړې او قرارداد) منع کړي. نو له دې څخه موخه په یوه معامله کې د دوو تړونونو شتون دی.*

نو ستاسو پوښتنه په یوه معامله کې د دوو تړونونو په هکله وه؛ تر ټاکلي وخته د کرايې ورکولو تړون؛ مثلا لس کاله، له هغه وروسته د خرڅلاو تړون دی، دلته دوه تړونونه کېږي؛ يعنې د موټر څښتن او هغه کس چې موټر په کرايه اخلي، د موټر د کرايې او پلور خبره په يوه تړون کې راغونډوي او دا کار د پورتني حديث له مخې جايز نه دی.

د دغې مسلې حلاره دې چې غوښتنه، له موټر پلورونکي سره د قسط په بڼه د موټر پر پېرلو هوکړه وکړه، لومړی ځل يو څه پيسې ورکړه، پاتې نورې يې بيا په مياشتيني قسط ورکړه، تر هغه چې په لومړي سر کې د دواړو تر منځ هوکړه شوی مبلغ پوره شي؛ په دې صورت کې موټر د موټر د پلور تړون له مخې چې په لومړي سر کې مو هوکړه پرې کړې وه، ستاسو مال کېږي؛ دا په قسط د يو شي اخيستلو تړون دی او په اسلام کې جواز لري، البته په دې شرط چې بيه او دا خبره چې پيسې نغدې وي که په قسط، په لومړي سر کې سپينه شي، دلته تړون داسې ختمېږي لکه څنګه چې په لومړي سر کې خبره شوې وه. نو کله چې په یوه ټاکلې بيه هوکړه وشوه او پلورونکي او اخيستونکي تر منځ په حال او مؤجل(نسيه) بيو هوکړه وشوه، دا خبره هم سمه ده، دې ته په بيع کې د هوکړې لپاره مساومة (مذاکره، خبرې اترې او چنې وهل) وايي او خپله بيع(پېر او پلور) نه ده.

مساومة (مذاکره، خبرې اترې او چنې وهل) جايزه ده؛ خپله رسول الله صلي الله عليه وسلم هم مساومه کړې ده. له حضرت انس ابن مالک رضي الله عليه وسلم نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يې ګيلم او کاسه پلورل او ويې فرمايل:

**«مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الحِلْسَ وَالقَدَحَ»، فَقَالَ رَجُلٌ: أَخَذْتُهُمَا بِدِرْهَمٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : «مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ، مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ؟»، فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ: «فَبَاعَهُمَا مِنْهُ»**

*ژباړه: دغه ليمڅی او کاسه څوک اخلي؟ يوه سړي وويل: زه يې په يو درهم اخلم، رسول الله صل الله عليه وسلم وفرمايل: څوک يې له يوه درهم څخه په زياتو اخلي، څوک يې له يوه درهم څخه په زياتو اخلي، بيا يوه سړي ياد ليمڅی او کاسه په دوو درهمو واخيستل.*

دا حدیث ترمذي روایت کړی او ویلي یې دي: دا حسن حدیث دی او مذایده بیع چنې وهلو ته وایي، په هره بیه چې هوکړه وشوه. ابن ماجه په خپل سنن کې له سوید ابن قیس نه روایت کړی چې ویلي یې دي:

**«جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ، فَجَاءَنَا رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ، فَسَاوَمَنَا سَرَاوِيلَ، وَعِنْدَنَا وَزَّانٌ يَزِنُ بِالأَجْرِ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم : «يَا وَزَّانُ زِنْ وَأَرْجِحْ» وصححه الألباني»**

*ژباړه: ما او مخرفه عبدي هجر(مدينې ته نږدې يوې سيمې ته) يوڅه کتاني کالي او پخته يووړه او رسول الله صل الله عليه وسلم راغی او مساومه مو وکړه او موږ سره يو کس و چې د هر څه په تللو يې احره(پيسې) اخستې؛ پيغمبر صل الله وعليه وسلم ورته وويل: ويې تله او د ترازو هغه کفه(پله) غوره کړه چې جنس پکې دی، دغه کار مستحب دی، نه واجب يعنې د ترازو هغه پله چې پکې جنس دی بايد لږ درنه وي او دغه کار مستحب دی.*

همداراز د قسط په بڼه بیع (پېر او پلور) جایزه ده؛ ځکه چې هغه مساومة ده (مذاکره، خبرې اترې او چنې وهل) چې په هره بیه پېر او پلور وشي. دا په هغه صورت کې ده چې مساومة د سوداګرۍ د مال په بیه په معجله(فوري) بڼه وي او یا مؤجله(چې مهلت پکې ورکړل شي) او د دغه تړون پلي کول له هغو دوو بیو نه په یوه یې ده: معجله یا مؤجله بیه.

د جمهورو علماوو په نظر، د پیسو په ورکړه کې د تاخیر په سبب له نني قېمت نه په لوړه بیه د یو پلور جواز لري. له طاووس او حکم حماد نه روایت شوی چې دوی وایي: هېڅ خبره نه ده که څوک ووایي چې دا په دومره نغدو او دومره قرض پلورم او په یوه بیه هوکړه وکړي. همدا راز له حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دی چې ویې ویل: «که یو څوک په دوو بیو(فوري او تاخیري بیه) چنې ووهي، باید له تړون مخکې له دغو دوارو یوه یې وټاکل شي.

نو حللاره دا ده چې یا موټر په اجاره واخلئ یا په قسط. لکه پورته چې یادونه وشوه او ځینې وایي، چې په اجاره او قسط اخیستلو او په یوه تړون کې د اخیستلو تر منځ توپیر څه دی؟ دوی ته ځواب دا دی چې د دواړو تر منځ ډېر توپیر دی؛ لکه د حلالو او حرامو تر منځ. الله سبحانه و تعالی د خلکو په ګټه رسولو او زیان رسولو ښه پوهېږي، دا ښه ورته معلومه ده چې څه شی د خلکو په ګټه دي او څه شی یې د فساد او تباهۍ لامل کېږي؛ الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾**

[ملک: 14]

ژباړه: ایا هغه د دې( زړونو په حال) نه وي خبر چې پیدا کړي یې دي؟ په داسې حال کې چې هغه باریک بین(په پټو رازونو) باخبر دی.

نو ښه ده چې له حق نه پیروي وشي او الله سبحانه و تعالی سمې او سیخې لارې ته لارښوونکی دی.

**ستاسو ورور عطاء ابن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۳۸ هـ. ق، د ربیع الاول ۱۷مه**

**د ۲۰۱٦م، د ډسمبر ۱٦مه**

ژباړن: خلیل